مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت
۲۰۲۶/۱۰/۱۸

# جکړ وهلې توتکی

د جکړونو، طوفاني سیلۍ وهلې یمه
یم توتکۍ له خپلې ځالې ترولې یمه

طناب د عقل مې لا دومره غښتلتیا نه لري
تورو دیوانو طلسمو کې پرځولې یمه

ختیځنه ځاله کې مې زر او مرغلرې پټې
غړه وم سترګې خو ړندو کې شمېرلې یمه

د خپلې خاورې سپېڅلتیا ته بچې ژمن نه شولو
خپلو کې غله شول ناهیلیو بیا زپلې یمه

هغه د لمر په څېر رڼا چې یې تر ولس رسیده
ګڼه ترې نور اخلي اوس دې حال ربړولې یمه

نن د افغانې مور بچې دوښمن لمن ته لوېږي
دې ناشولتو زه هر لورې ځغلولې یمه

لوڼه تورتم ته ټیل وهې راتلونکې تپه تیاره
د انساني ژوند له دایرې نه یې غورځولې یمه

هېواد مې تخت د سلیمان(ع) دی پردیپال نه پرېږدي
ترې را رغېږي تجربو زه پوهولې یمه

هاجرې حاکم چې جوړ قارون شي حرص یې کړي لیوني
د واکمنانو بدو پایلو ژړولې یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ